# خوشحال خان د ایډیالیزم او ریالیزم پر پېچومي

آیا د خوشحال خان هنر د هنر لپاره و، که د ژوند لپاره ؟

د ایډیالیزم یعني اصالت تصور او خیالیت ریښې د انسانانو په شاعري کې ډېري قدیمي دي، هر کله چې انسان له خورا قدیمو زمانو څخه د فطرت په جذباتو او ولولو کې د خپلو پټو میلاناتو ترجماني د شعر په ژبه وکړله هغو اشعارو غیر مادي او روحاني او د عالم بالا څخه یو منبع درلود، او شاعر د هغه غیر مشاهد او خیالي استازی ګڼل کېدئ.

د یونان قدیم اساطیر وایي چې : آمفیون د جوپیتر زوی هغه میتالوژیک شاعر او سندرغاړی وُ چې د تب د ښار په ودانولو کې په ښه رغ او سحرناکو نارو، خپل ارغنون واهه، او دې سندرو به داسې اثر درلود، چې کاڼي به چاودل، او شاعر ته به یې راځغستل، او ده به د کلا په جوړولو کې کارول، د جوپیتر له لونو څخه یوه (موس یامیوز) د شعر لهه وه، چې شاعرانو به د هغې د جلال او جمال له لوړه عرشه لهام اخیست د شعر د خیالي روایاتو دغه لوړه افسانه ډېره پخوانی ده. خو په دې نژدې پېړیو کې امانویل کانت د جرمنې مشهور فیلسوف او محقق د ایډیالیزم او خیالي شاعری مکتب په مرتب ډول وپرانست، دی وایي چې هنر او آرټ پخپله مطلوب او بالذات مقصود دي نه د کوم بل غایت لپاره دا هغه نظریه ده چې

آرټ، د آرټ لپاره بولي، او هغه په يوه مجرد او غير مادي ديناميزم پوري مربوط ګڼي، او وايي چي د دنيا انسانانو خو په نژاد او جنس او وينه او مذهب او مشرب کي سره مختلف دي، مګر د دوی په شعر او آرټ کي يو ډول وحدت او د معانيو تجانس او د افکارو هارموني سته، او دا خبره ثابتوي چي د انساني آرټ منبع يوه آسماني او روحاني مشترکه او واحده سرچينه ده، زمونږ شرقي مفکران او شعراء هم ارټ لره د جمال يو عالي او آسماني غيبي منبع مني، او مخصوصاً صوفيان خو بل څه نه ويني او نه يې مني.

شيلر د جرمني يو آيډيالست شاعر دئ، دی د آرټ دغه لهي او جمالي غيبي انتساب په يوه خورا لطيفه او خوږه قطعه کي داسي بيانوي : "لوی خدای خپلو بندګانو ته و ويل : چي دا ټوله ځمکه ستاسي ده، هر څوک دي خپله برخه څني واخلي. خلک ولاړل، دهقانانو او زميندارانو ځمکي او ټيي واخيستل، سوداګرانو پيسې او مالونه يووړل، ملايان په مزدکو کي کښناستل کشيشانو ګرجي ونيولې پاچهانو ملکونه او خزانې واخيستلې ... د ځمکي مال دولت ووېشل سو، خو چي د شاعر وار راغی، څه نه وه پاته، ده پر خدای عرض وکړ : چي اې لويه خدايه ! زه خو ستا په مخلوقاتو کي تر ټولو رښتين يم خو څه مي ونه موندل، تش لاس پاته سوم.

خدای و ويل : ته چيري وې؟ خو خپله برخه به دي وړه !

شاعر و ويل : لويه خدايه ! هغه وخت خو زه ستا د عرش په غولي کي ګرزېدم تاته مي کتل، ستا کلام ته مي غوږ ؤ، په آسماني ميو مست وم، ځکه مي د ځمکي نعمتونه هېر سول ...

خدای و ويل : اوس خو تاته په ځمکه کي څه نه سوه پاتي نو زه ستا يم ته تل زما په درګاه کي اوسه ! ستا ځای دلته دئ" اسلامي عرفا هم لکه غربي مفکران، د جمال او آرټ مبداء په يوه ماوراء لماده دنيا کي لټوي، او "مولانا جلال الدين بلخي" هم د هغي



غيبي دنيا په ياد سندري وايي، او خپل آرټ د هغي معنوي او روحاني دنيا د يوه واړه انعکاس اثر، او د هغي نړۍ د يادولو سوز و ګداز ګڼي :

بشنو ! از نی چون حکايت ميکند
وز جداييها شکايت ميکند
کز نيستان تا مرا ببريده اند
وز نفيرم مرد و زن ناليده اند

(مثنوی مولوی)

هم دغه مقام دئ چي د اسلام لوی پوهنيال حجة الحق ابن سينا بلخي هغه ته اشاره کوي :

هبطت اليک من المحل الاء رفع و رقاء ذات تعز زو تمنع" تاسي وګورئ چي د آرټ آيډيالي مبداء قديم يونان او اروپا او د اسلام د صوفي او مفکر شاعر تر منځ مشترک دي، که څه هم يوناني مبداء فقط يو خرافي او ميتالوژيک روايت دئ، او د جرمن شيلر هم تش خيال ځغلولی دئ او اسلامي مفکرين هم له يوې داسي غيبي دنيا او غير مادي او نامحسوس لوړه مقامه ګڼ دي چي انسان هغه نه ؤ ليدلئ او نه ئي ليدلای سو ځکه چي هغه يو د ملکوتي ماوراء الماده او ميتافزيکل دنيا ده، خو بيا هم دغه فکر او دغي تيوري په قرنو قرنو د انسان پر دماغ حکومت کړيدئ او د آرټ هغه عالي مبداء چي يوه يوناني ايډيالست فرض کوله هغه د بلخ د قوانيي قلندر هم تصور کړې ده او کله چي صوفي پښتون شاعر رحمان بابا د شعر ارغنون ږغوي، نو د مولانا بلخي نيستان را په يادوي، او په هغو ميو مست ښکاري له کومه جامه چي د يونان پخواني شاعر يا د جرمني پياوړی سخنور مست ؤ، ايډياليزم وايي : آرټ خپله مقصد او هدف دئ، بل غرض نه لري، د شعر، موسيقي، نقاشي او ټولو نفيسو صنايعو د لهام منبع "عالم غيب" دئ.

خو دا ټول نفيس صنايع او د آرټ دوني ځانګي د ظهور او خارجي تحقق لپاره له "عالم شهود" او مادي محسوساتو څخه کار اخلي. تر اوسه هم د انسان پوهني او طبيعي علومو، د يوه آرټيست او فنکار د احساساتو او جذباتو لپاره کوم مادي او طبيعي مقياس نه دئ کشف کړئ نو ځکه د اصالت تصور او ايډياليزم طرفداران د آرټيستيکي لهاماتو او لياقتونو لپاره يو عالم غيب او عرش لهي فرضوي. او آرټ د لهي جمال او غيبي ښکلا يو انعکاس او نمايندګي بولي، او زموږ صوفي شاعر شيخ متى خليل (کلات بابا) دغه مقصد په څه څرګنده ژبه بيانوي:

پر لويو غرو هم په دښتو کي
په لوى سهار په نيمو شپو کي
په غاړه رېغ، او په شپېلکو کي
يا د ويرژليو په شپېلو کي
ټول ستا د ياد ناري سورې دي
دا ستا د مينې ننداري دي
خاونده ! ښکلى ستا جمال دئ
ښکاره يې لور په لور کمال دئ
که ورځ که شپه که پېرى کال دئ
ستا د قدرت کمکى مثال دئ
ستا د لورونو يوه رڼا ده
دلته چي جوړه تماشا ده

دا و د ايډياليزم ځني څرګند مبادي په شرقي او غربي ادب کي، چي د انسان د ايډيالوجى او فکري ارتقاء ادبي حرکاتو شمزى ګڼل کيږي، مګر هر څوني چي انسان د ماترياليزم يعني مادي فلسفې په ډګر کي مخکي ولاړ، او حسي او تجربي فلسفه خپره سوه، نو د پخوانى ايدلوجى په مقابل کي، د رياليزم د فکر يو نوى مکتب يعني حقيقت او ايجابي فلسفه ودرېده، چي د دې



طرفداران خپل ټول مبادي د "تجربې او عمل او حس و حقيقت" پر ستو ږدي دوى آرټ يو انساني او مادي مخلوق ګڼي، او فقط د ژوندانه د ښېګڼو او اجتماعي او حياتي مقاصدو لپاره يې استعمالوي.

دوى وايي چي: هنر د انساني ژوندانه نتيجه ده، او انتفاعي شى دئ. دغه وزم او آهنګ چي د شعر او موسيقى اساس دئ، او هم نقاشي او حتى رقص او سرود او ټول مستظرفه صنايع د انسان د کار د اسانولو لپاره دي.

رقص د کار مخصوص اشکال دي، د استراليا د خلکو نڅا، د دوى د پخوانو اسلافو هغه حال ښيي چي هغو وحشي انسانانو به د وښو ريښې څنګه راکښلې او څنګه به يې ځانونه ورته کړول چي په هغو ګېډه مړه کړي؟ د امريکا سرخ پوستان تر اوسه هم د غرځو د حرکاتو په ډول ناخي، چي هغه په دې چم ښکار کاندي. دوى هر وخت د ښکار په انتظار د غرځو په دود ايشله کوي او د دوى د آرټ مبداء صرف مادي ده، له ژوندانه سره مربوطه ده، کوم غير مادي او غيبي محرک نه لري، په دې رياليستيک تفکر کي فرويد وروستني سايکالوجسټ دوني اغراق کوي چي ټول فنون صنايع او انساني اخلاق او روحي محرکات او تاريخي حوادث سياسي او اجتماعي انقلابونه پر جنسي خواهش بنا کوي، او وايي چي آرټستان ټول هغه خلک دي، چي د جنسي محروميت زجر ئې ليدلى او د دغه زجر تلافي پخپل هنر کوي.

عجيبه خو دا ده چي يوه پوهنيار يو کتاب ليکلى دئ د (کار او ريتم) په نامه او دى ټول موزيکل آرټ خاص د کار لپاره بولي او دا ثابتوي چي ميوزيک خاص د کار د تسهيل لپاره پيدا سو، دا ډله ريالستان او حقيقيون وايي: چي ژوند يو حرکت او فعاليت دئ او ادبي ژوند هم د دغه حرکت سره پر انقلابي لور ملګرى دئ، انسان

د تکامل او بشپړتوب پر خوا روان دئ او د دغه تکامل لپاره يو علمي فارمول هم سته چي د بشپړتوب (تکامل) حرکت له خپله مرکزه په بعد کي د مربع په حساب سرعت مومي نو آرټ هم تل په دغه سرعت د انسان د ژوندانه د ګټورو اړتياوو لور ته پر مخ روان دئ، ځکه نو دوی وايي :

"چي آرټ تش د آرټ لپاره نه دئ، يعنی بالذات مقدس نه سي کېدای، بلکي د ژوند خادم دئ او آرټ د ژوند، د ودی لپاره هنري مسلک دئ"

دا ډله مفکرا اوس ترقي پسندان بولي د هنر مبداء خپله ژوندون او ماده او عمل او کار او اجتماعي او انساني سايکالوجي ده، دوی آرټ د ژوند لپاره غواړي، او د انساني طبقاتو په ژوند کي يې د يوې موثري وسلې په ډول استعمالوي، او نن ورځ د وګړني ادب يا ترقي پسند هنر په نامه ډېر خلک د هنر د تجدد مدعيان دي او غواړي چي لکه ساينس، هنر د انساني بشپړتوب په مقاصدو کي د اتوم په ډول استعمال کاندي، بلينسکی د دې ډول آرټ يو پيشوا وايي :

چي زموږ آرټ به په اجتماعي روابطو کي د ژوندانه لپاره وي، او نوی ادب به پر نوو مادي او انتفاعي لارو ځي، د انسانانو محرومه ډله به خوش بخته کوي، او د بې وزلو او بې اسرو په جونګړو او د خوارانو په کوډلو کي به ګرزي او دغه نو يو حقيقي آرټ دئ.

نن د دغو دوو ډلو هنرمندانو څېړني په هر ځای کي اورېدلي کيږي، ترقي پسندان وايي چي د ايډيالستانو هنر جامد او غير مفيد او صرف تخيلي دئ انسان له تکامله محروموي او دغه خيال پرستي وه چي انسان يې په ډېرو اجتماعي ناروغيو اخته کړئ وُ.

که موږ دغو څېړنو ته ځير سو دا به ښکاره سي چي نزاع لفظي ده او د يو ترقي پسند يا ريالست غايي هدف هغه دئ چي يوه ايډيالسټ هنرمند به يې تصور کاوه. حقيقت خو د ادئ : چي د



آرټ مبداء جمال دئ، او په کايناتو کي هر ځای په هر شي کي د جمال ننداري ښکاري، شعر د کلماتو او الفاظو او تخيل جمال دئ، موزيک د ږغو او آهنګونو جمال دئ، رقص د بدني حرکاتو جمال دئ، نقاشي د اشکالو او خطوطو جمال دئ، خو فرق دا دئ چي دغه ښکلا د جمال د کوم مقصد لپاره استعماليږي؟ که يوه ايډيالست فنکار انساني ښکلا په تخيلي او تصوري ډول ستايله، اوسنی ترقي پسند هنرمند هم دغه جمال ستايي او د ده د هنر سرچينه او مبداء، هم هغه عمومي ښکلا ده، خو دا ډله يې د انسانانو د حياتي مقاصدو لپاره استعمالوي که نه وي، ماشين او سپاره او جوغ او د کار توري خيرني آلې خو دی هم نه ستايي. او نه د مکانيزم په زلفو او جمال پوري بدلي وايي. خو موږ به دې ډلي ته حق ورکوو چي د آرټ جمالي مقاصد د ژوند د تنظيم او د انسان د ارتقاء او ښېګڼې لپاره استخدام کاندي او آرټ يو حياتی شی وګرزوي اما کله کله د انسان فطري ميلان يوه مجرد جمال او آرټ ته هم وي چي د کوم غرض لپاره نه موزيک اوري او نه کوم شعر. بلکي د روحاني تسکين او وجداني آرام لپاره ترنم کوي، يا يو باغ او ګلزار ګوري، يا شعر وايي، يا ناځي، چي دا هم د انسان يو روحي ضرورت دئ، او هم ګومان کوم چي ترقي پسند به هم دغه روحي اړتيا لري. وايي چي د انګريزي مشهور اديب او فنکار شکسپير، په خپله ډرام نويسي کي د دواړو مسلکو لحاظ کړئ دئ، ايډياليزم او رياليزم ئې سره ګډ کړي دي او يو مرکب معجون ئې ځيني جوړ کړئ دئ چي ډېر مفيد او خوږ او د تناول او سهلو وړ دئ. که موږ د شرق شاعري ته دقيق سو، دغه کار لا مخکي شرقيانو کړئ وُ. اکثر فنکاران و چي دوی د ايډيالوجی د آسمان پر کنګرو ګرزېده، مګر د انسان د ژوندانه او حتی طبقاتي ښېګڼو فکر ئې هم درلود، تاسي د سعدي ايډيالي تغزلات او قصايد ولولئ، بيا نو ګلستان او بوستان هم وګورئ

چي دا سحر کار فنان او آرتسټ څه بلا کوي؟ زموږ هنرمند فنکار او مشهور شاعر خوشحال خان هم په خپل ادب کي دواړي خواوي سره ګډي کړي دي، د ده آرټ د ژوندانه لپاره داسي استعمال سويدئ چي د ايډياليزم مزايا او هنرونه ئې هم نه دي بايللي، خوشحال خان که شاعر وُ، خو يو جنګجوی سردار هم وُ، او د قوم مشر هم وُ، د ده هنر ژوند وُ، او ژوند ئې هنر.

کوم وخت چي به د ميني په معنوی دنيا کي يو پوخ ايډيالسټ وُ، نو به ئې مجرد عشقي سوزان اشعار ويل، او د آرټ تخليق به يې له دې جهته کاوه چي پخپله دغسي آرټ د روحي تسکين لپاره ده ته ضرور وُ او په دغه تخليق کي ده کوم بل غايت او هدف نه درلود، دلته د ده آرټ خاص د آرټ لپاه وُ، آيا دغسي روان سليس او غوږ غزل تاسي ته پخپله خوږه پښتو کي پس له ډير ورورزانه دماغ فرسائيو او روحي محروميتونو څنګه خوند درکوي؟

آيا دغسي مجرد آرټ انسان له پکار نه دئ؟ زما يو سپين ږيري ـ باذوقه ـ متقي او فقيه استاد وُ، چي د احاديثو او تفسير او فقه او ادب تر جدي درسونو وروسته به يې ويل : اوس روحي تفکر او تفريح ته ضرورت دئ نو به ئې د خوشحال يا شيدا يا رحمان يا حافظ يا جامي اشعار په ښه ترنم آوربدل، او ويل به يې دا د روح غذا ده ! په دې غزل کي زموږ مقدر فنان (خوشحال خان) صرف د آرټ او نفاست تخليق کوي :

ستا وصال لکه دریاب دئ زه ماهی
په هجران دي هر زمان دئ په ما . هی
په ژړا مي څني خواست د سپيني خولې کړ
په خندا ئې وې چي څه کا دا سړی ؟
وې ئې څوک يې چي زما په کوځه ګرزې ؟
ښه حاضر ځواب مي ورکړ ستا مريی !
هم په څو رنګه ناله، هم په تن ناله سوم
بېلتانه رابانـدي وکـړ کار د نـي



د ځوانی بهار څه ښه دئ دربغه دربغه !
دا بهار که همېشه په دنيا وی
ګل، سنبل، نسرين، نرګس، لاله، غوټې
د مقدم سره دي راوړ درست پسرلی
چي ئې ونيسم په غېږ کي راته ګوري
لکه مست د مور په پيو کي کبلي
دا شيرين ياران به نه وينم چي ومرم
خدايه ما په جهان تل لري ژوندی
د هر صفت د ښاپيريو اورېده سي
ولي ستا د مخ څوک نه وينم مخي
اورنګ زېب به د کابل د خلل غم کا
ساقي وخت د نوبهار دئ راوړه مې !
چي زړه سوی دي د خوشحال په فرياد نه سي
په سينه کي دي سندان دئ که زړګی ؟؟؟

د خوشحال خان په لوی دېوان کي به تاسي داسي تفکهات ډېر ومومئ، اووه اته زره بيتونه داسي دي، چي فقط د آرټ په مجرد او غير انتفاعي اړخ پوري اړه لري، مګر خان خو سياسي حکمدار هم وُ ده خپله هنرمندي او آرتيستيک لياقت او فني ذوق په داسي چارو کي هم استعمالاوه چي هغه د روزمره ژوند سره اړه لري او کله د اوسني ترقي پسند هنرمند په ډول يو مدقق نقاد څني جوړېده، چي د رياکارانو د ريا او مکر پرده يې څيرله، او په ژبه يې د ټوپک کار کاوه، لکه چي وايي :

زما ژبه نه ده اور ده
ګذارونه د ټوپک کا

انتقاد او کرټيسيزم خو د نوي رياليزم او ترقي پسند روح روان دي، تاسي وګورئ چي خان څيني مذهبي متعصبان او رياکاران په کومه ژبه رسوا کوي :

دا تـاراج لکـه شـيخان کانـدي پـه مکـر
افريــدي نــه دي دا هســي تــاراجي
صـفايي د زړه پـه کـار ده نـه د ږيـري
خـو بـه ږيـره گـرزوې شـانه عـاجي !
دا ئـې سـخر د بنگـال د مځکـي راوړ
چي درست اوښ په گټکي ومانده حاجي

دغه انتقادي تېره ژبه يوازي شيخانو ته نـه ده متوجـه، بلکـي د خپل عصر ظالم زمامداران هم رسوا کـوي، او پـه هغـه وخـت کـي چي خلکو به د اورنگ زېب پر دربار سجدې کولې، او د گردنکشانو او لويو جهاندارانو څټونه هم د ده تخت ته ټيټ وه، خوشحال خان پـه کومـه ژبـه او پـه څـه اديبانـه استهزا او عارفانـه تجاهـل هغـه رياکاري ښيي:

وخت د اورنـــگ زېب دئ
د هرچــا تسپــې په لاس دي
خداى خبر ئې دئ په زړونـو
چي ريا، که په اخلاص دي؟

تر دې لا خوږه دا ده، چي د دې ظالم امپراطـور نـور شخصـي افعال څنگه رسوا کوي :

د دې دور شيخان ډېر دي لــور په لور
اورنگزېب پادشاه د واړو دئ انــځور
په هغه چاړه قلم ساز کا قـــرآن کښي
په هغه چاړه ښـــهرگ پرې کا د ورور
په رکوع کي تسبيحات د پلار د مرگ کا
په سجود کي ځوروي خپله مشره خـــور

د خوشحال خان ژوند له قومه سره و او د خپـل آرټ يـوه لويـه برخه يې د قوم د اصلاح او ويښولو لپاره وقف کړې وه، د پښتنـو بـد



عادات او عيوب به يې غندل، او دغه انتقاد يې داسي تېز او موجـه او انتفاعي ؤ چي د پوهانو په عقيده خوشحال يـوازي شاعر نـه ؤ، بلکي يو سوشل سايکولوجست هم ؤ ده ليدل چي پښتانـه د خپلـي جزوي گټي لپاره ځيني ملي هدفونه او قومي او عمـومي گټـي تـر پښو لاندي کوي، او هم په دې سـبب دوی د خپـل ملـي مرکزيـت څښتنان نه دي او د پردو استعمار ځپې يې ملي ژوند ور ورانوي. نـو دی د پښتنو حال بيانوي :

اوښ له باره سره کــــور ته ورغلی
په اولجه د اوښ د غاړي د جرس دي

بل ځای د ده انتقادي ژبه پښتنو ته د دوی يو بل عيـب داسـي ښيي :

پښتانه واړه بد خــوی دي
کور په کور کاندي غورزی
يو چي سر کاندي په پورته
بل يې ووهي مـــــغزی

دا اجتماعي لوی او مخرب او مدهش عيب تر اوسه هم پـه مـوږ پښتنو کي سته کوم چي خوشحال خان څو سوه کالـه دمخـه ځنـي ژړل او ويل يې :

په بل غشي بل ټوپـــک ويشتلی نه يم
که ويشتلی يم خو بيا په خپل ټوپک يم

خوشـحال خـان د رياليزم پـه دنيـا کـي مظلـوم آزاري يـو راز سبوعيت او حيوانيـت بـولي، او داسـي ښکـاري چـي د ده آرټ د غريب او بې وزلي په نفع هم استعمال سوی دئ لکه چي وايي :

دا چي خانان دي امــراگان دي
په هند کي گرزي په هر مکان دي
غوښي هډونه د مظلومانو خوري
زما تر فـــــهم واړه د دان دي

آيا په ترقي پسند ادب کي به هم تر دغه لوړ زننده او تند تعبير د مظلومانو په طرف دارۍ کي پيدا سي؟ دا وُ د خان د فني استعداد قريحې لنډ بحث چي د ايډياليزم او رياليزم له پلوه وڅېړل سو، لنډه نتيجه يې دا ده : چي خوشحال خان يو مقتدر آرټسټ او فنکار دئ چي د ده آرټ او فني تخليق هم آيډيالوجيک مزايا او ښېګڼې لري، چي فقط مجرد آرټ ګڼل کيږي، او په آرټ د آرټ لپاره خدمت دئ. اما دی يو رياليسټ هم دئ چي د آرټ په ذريعه يې ژوند ته هم خدمت کړئ او خپل هنر ته يې انتفاعي او عملي ډېره هم ورکړې ده، نو ځکه :

همېشه به پرې نارې وي د بلبلو
دا چي ساز کړ نن خوشحال په ويل ساز (۱)

(۱) کابل مجله، ۱۳۶۱ ل کال، ۳ يمه ګڼه، ۲۲ _ ۳۲ مخونه.